# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱۹مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر نهمه | ٦٤٣مه ګڼه


## کتاب

۴ مخ

### زما ژوند له طالبانو سره




د کتاب لیکوال وايي: د څلورو هغو کلونو په دوران کې چې ما په ګوانتانامو کې تېر کړل، داسې څه مې واورېدل او مې لیدل چې هیڅ د منلو وړ نه وو، دا هرڅه په کېمپونو کې پېښېدل.

# په بین الافغاني مذاکراتو کې پرمختګونه؛

## عبدالله عبدالله: نن به د دواړو لورو ترمنځ جدي بحثونه پیلېږي



۳

### په دوحه کې د خبرو پر اجنډا بحث؛ تمې او واقعیتونه

۲ مخ

### د ایران اټومي پروګرام؛ اسراییل او امریکا ولې اندېښمن دي؟

۲ مخ

### چین و افغانستان دست به دست هم می دهند تا «ویروس فقر» را از بین ببرند

۳ مخ

### کرنې ریاست:

## روان کال د کونړ د مالټو حاصلات د تېر په پرتله لس سلنه زیات شوي



د کونړ د کرنې ریاست چارواکي وايي، چې سږ کال د دغه ولایت د مالټو حاصلات د تېر کال په پرتله لس سلنه زیات شوي دي. د کونړ د کرنیزو چارو امر نجیب الله عادل وايي، چې د یاد ولایت په لسو ولسوالیو کې د مالټو ۷۵۰ بڼونه شته، چې سږ کال یې د حاصلاتو کچه د پام وړ زیاته شوه ده. عادل د دغه ولایت د مالټو د ډېرښت لاملونه د نویو بڼونو حاصل ته رسېدل او د بڼوالو لپاره د کرنې ریاست له خوا روزنیز پروګرامونه بللي دي. د نوموړي په خبره، د کونړ د مالټې سړني حاصلات به څه باندې ۹۸۸ ټنو ته ورسیږي، چې د تېرکال په پرتله لس سلنه زیاتوالی پکې راغلی دی. د کونړ د کرنې ریاست چارواکي زیاتوي چې په دغه ولایت کې د سټروسو بڼونو د پراختیا په پار د کرنې او مالدارۍ وزارت او د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې «NHLP» په ګډې همکارۍ د سټروسو ۴۰۰ نوي بڼونه جوړ شوي دي.

### تازه خبرونه: د ټرمپ په دوره کې د ملکي افغانانو مرګ ژوبله تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلې

د براون په نامه د یوه امریکایي پوهنتون موندنې ښیي چې د ډونالډ ټرمپ د ولسمشرۍ په دوره کې په افغانستان کې په هوایي بریدونو کې د ملکي افغانانو مرګ ژوبله تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلې ده. سپوټنیک اژانس د یاد پوهنتون په حواله خبر ورکړی چې د ټرمپ په دوره کې په افغانستان کې د هوایي بریدونو له امله د ملکي افغانانو په مرګ ژوبله کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. یادې څېړنې، د ټرمپ په دوره کې د هوایي بریدونو په پایله کې د افغانانو د مرګ ژوبلې کچې زیاتېدو لاملونه، په خپلسري توګه د جنګي قوانینو تعدیل، قوماندانانو ته ډېر نظامي واک ورکول او د جګړې شدت ښودلی دی. په څېړنه کې راغلي چې یوازې په ۲۰۱۹ میلادي کال کې د بهرنیو ځواکونو په هوایي عملیاتو کې ۷۰۰ ملکي وګړي وژل شوي او ۳۲۷ نور ټپیان شوي دي. په ورته مهال الجزیرې هم ویلي چې په هوایي بریدونو کې د ملکي افغانانو مرګ ژوبله اوج ته رسېدلې ده. الجزیرې انګلیسي په یوه راپور کې ویلي، وروسته له دې چې امریکا د جګړې مسوولیت افغان پوځ ته وسپاره، د بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کې ملکي مرګ ژوبله لوړه شوې ده. په راپور کې راځي چې په ۲۰۱۹ز کال کې نړدې اووه سوه ملکي وګړي د امریکا په هوایي بریدونو کې وژل شوي چې په تېره ۱۹ کلنه جګړه کې په یوه کال کې د هوایي بریدونو له امله تر ټولو لوړه مرګ ژوبله ده. الجزیره دغه راز لیکي چې د افغان ځواکونو په هوایي بریدونو کې هم د ملکي تلفاتو شمېره لوړه ده.

### ملي امنیت شورا: د نورو طالب بندیانو خوشې کول د سولې خبرو پر چټکتیا اغېز نه لري



۲ مخ

### شبکۀ مبارزه با فساد اداری:

## حکومت در مبارزه با فساد موفق نبوده است




اشتراک کنندگان نشست تجلیل از روز«جهانی مبارزه با فساد اداری»، از افزایش فساد اداری در کشور سخن زده می گویند که نهادهای مبارزه بافساد در کارشان موفق نبوده اند.

شبکۀ مبارزه با فساد اداری افغانستان، دیروز از روز جهانی مبارزه با فساد اداری در کابل تجلیل کرد. خان زمان امرخیل رئیس اجرائیوی این شبکه گفت در جامعه ای که عدالت نباشد، فساد اداری وغیره مشکلات افزایش پیدا می کند.

وی افزود که دولت برای مبارزه با فساد اداری، از طریق استراتیژی هایی که در سال ۲۰۱٦ ساخته است، باید عمل کند تا فساد اداری در ارگان های دولتی کاهش بیابد.

او گفت: «در بخش عواید، فساد زیاد شده است؛ به خصوص در زمان انتخابات هرکس استفاده سوء کرد، همچنان در جریان مذاکرات صلح که توجه جهان و رسانه ها را به خود جلب کرد، اکثر سوء استفاده صورت گرفت، نه تنها ادارات دولتی بلکه در دیگر نهادها نیز فساد جریان دارد.»

به گفتۀ وی، در اکثرنهادهای دولتی به ویژه در بخش ترانسپورت، گمرکات و عواید کشور، حساب دهی درست وجود ندارد که نشان دهندۀ فساد اداری می باشد. موصوف گفت که باید دولت، نهادهای مدنی و جامعه جهانی، از کار این بخش ها نظارت جدی و دقیق داشته باشند.




## سرلیکنه

# په دوحه کې د خبرو پر اجنډا بحث؛ تمې او واقعیتونه

د مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله پرون ویلي وو چې د چهارشنبې په ورځ به په دوحه کې جدي بحثونه پیل شي. نوموړي ویلي وو چې دواړو لورو یو د بل نظرونه اوربدلي او سلا مشورې رواني دي. عبدالله زیاته کړې وه؛ ټول خلک تمه لري چې اوربند وشي، خو دا چاره وخت او حوصلې ته اړتیا لري. په دوحه کې د طالبانو او حکومت ټیمونو هغه موضوعات یو له بل سره شریک کړي، چې دوی غواړي په بین الافغاني خبرو کې پرې بحث وشي، خو نن به دواړه اړخونه پر دې بحث وکړي چې په اجنډا کې څه را شي او له څه او لومړی تمرکز پر کومو ټکو وشي.

په دوحه کې پر اجنډا بحثونه په داسې وخت پیلېږي چې دواړه لوري د خلکو او په ځانګړې ډول بهرنیانو تر ژور فشار لاندې دي، چې د سولې په چاره کې انعطاف وښیي، پرمختګ او جوړجاړی وکړي. دواړه لوري غواړي چې د خپلې خوښې موضوعات اجنډا ته داخل کړي، خو دواړه لوري داسې موضوعات هم یادوي چې موخه یې اجنډا ته داخلول نه دي، بلکې په مقابل لوري فشار دی چې غواړي پرې خپل اصلي موضوعات په اجنډا کې ومني. طالبان د پاتې بندیانو خوشې کول، د نظام ډول، اساسي قانون، د اوسني حکومت د برخلیک مسئله او ځینې نور مسایل اجنډا ته داخلول غواړي، خو حکومتي ټیم غواړي چې اوربند، د پاتې حکومتي بندیانو خوشې کول، د طالب جنګیالیو برخلیک، له طالبانو سره د بهرنیو جنګیالیو شتون او ځینې نور موضوعات په اجنډا کې راولي.

په دې چاره کې ځینې مسایل داسې دي چې سخته ده چې دواړه لوري یې دې یو له بل سره ومني. له همدې امله پر اجنډا بحثونه به هم لانجمن وي او هم به وخت واخلي. له بله اړخه تر اوسه پورې هم دا هڅه روانه ده چې د لانجمنو مسایلو په مطرح کولو او یا لانجمنو مسایلو ته په لومړیتوب ورکولو سره د سولې په پروسه کې خنډونه جوړ شي. تر اوسه پورې هم په ارادو او نیتونو کې ستونزې شته، نو ځکه به په قصدي او شعوري ډول د فضا د خرابولو او د خنډونو د جوړولو هڅه کېږي. له همدې کبله هغوی چې په رښتیا سوله غواړي او دې ته لوالتیا لري چې په دې پروسه کې خنډونه جوړ نه شي او ښه پرمختګ وکړي، نو ټول تمرکز یې باید پر دې وي چې هغه مسایل لومړیتوب ولري چې دواړه اړخونه غواړي په اجنډا کې وي او یا هم په اجنډا کې راوستل یې ډېر لانجمن نه وي. له همدې کبله پیل باید له هغو ټکو وشي چې په هغو کې ستونزې او اختلافات کم وي. له بله اړخه دواړه لوري باید درک کړي چې د ستونزې د حل لپاره پکار ده چې پر هر څه بحث وشي، نو ځکه باید ټول هغه مسایل اجنډا ته راشي چې په اړه یې اختلاف دی. که پر اختلافي مسایلو بحث ونه شي، اختلاف حل نه شي، نو ستونزې به همداسې پر ځای وي. له همدې امله دواړه اړخونه باید پر ټولو اختلافي مسایلو بحث ته تیار وي، حوصله وکړي، له ګډو او هغو ټکو پیل وکړي چې پرې کم اختلاف دی او بالاخره دواړه لوري باید ومني چې دوی له جوړجاړي او سولې پرته بله لاره نه لري او همدا لاره د خلکو اساسي غوښتنه هم ده.

# د ایران اټومي پروګرام؛

## اسراییل او امریکا ولې اندېښمن دي؟

لیکنه: ډاکټر محمد تنها

ایران اټومي ټکنالوژۍ ته د لاسرسي لپاره خپل لومړی ګام له (اټوم د سولې لپاره) پروګرام سره یوځای واخیست. دا پروګرام تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته په ۱۹۵۰ کال کې د امریکا د وخت ولسمشر ایزن هاور لخوا د جنګي اټومي ټکنالوژۍ پراختیا د مخنیوي او سوله ییزې اټومي ټکنالوژۍ ته د لاسرسي په پار پیل شوی و، چې له امریکا سره د ښو اړیکو لرونکو نږدې ټولو هېوادونو ګټه ترې اخیسته.

د ایران د وخت حاکم رضا شاه پهلوي چې له امریکا او غرب سره یې ښې اړیکې درلودې، په منځني ختیځ او لوېدیځه اسیا کې د دې پروګرام یو نازولی ګټه اخیستونکی و.

له دې پروګرام ګټنه په ۱۹۷۹ کال کې د ایران له اسلامي انقلاب سره جوخت پای ته ورسېده او د ایران ګاونډیو او غربي هېوادونو د اړیکو په ترینګلتیا سره د ایران اټومي پروګرام د جنګیتوب یا نا سوله‌ییزتوب په اړه اندېښنې ورځ تر بلې زیاتېدلې.

دې اندېښنو هله لا زور واخیست چې د اتیایمې لسیزې په پای کې په نړیوالو استخباراتي کړیو کې د ایراني چارواکو او پاکستان اټومي پروګرام مشر ډاکټر عبدالقدیر خان تر منځ لیدنو کتنو مستندول روان وو.

دا خبرې دومره پټې ساتل شوې وې چې ان د پاکستان د وخت لومړۍ وزیره بېنظیر بوټو لا نه وه پرې خبره.

بوټو لومړی ځل د ایران او قدیرخان له پټو راکړو ورکړو د ایران د وخت ولسمشر رفسینجاني له خولې خبره او هېښنه شوه.

**ایران خپلو «دښمنانو» ته مخامخ ګواښونه پیل کړل**

په ۲۰۰۰ کال کې د ایران اټومي پروګرام او د اټومي وسلو لپاره د یورانیمو بډاینې په اړه د امریکا او نورو ځارګرو ادارو لخوا د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته شواهد وړاندې کړل شول، په دې شواهدو کې ښودل شوي وه چې تهران د بوشهر په نامه خپلې اټومي بټۍ کې د یورانیمو پر بډاینه لګیا دی.

که څه هم ایران تل دا ادعا کوله او کوي یې چې دوی یورانیم یوازې د اټومي برېښنا د تولید لپاره بډایوي، خو ان همدا اندازه بډاینه هم د اټومي وسلو د پراختیا ممنوعیت تړون غړو هېوادونو لپاره یو بې قانونه کار بلل کېږي.

دا شکونه او شواهد تر هغه وروسته نور هم کره شول چې د ایران د وخت ولسمشر محمود احمدي نژاد پخپله د ایران لخوا د یورانیمو بډاینې پروسه کې د پرمختګونو په اړه مالومات ورکړل.

هغه په وار وار دا یادونه وکړه چې ایران په یوازې ځان ان د اټومي وسلو تر کچې هم د یورانیمو غني کولو جوګه دی او ور سره خپل توغندیز پروګرام ته هم وده ورکوي او ډېر ژر به ایراني توغندي د دې جوګه وي چې خپل دښمنان له منځه یوسي.

د احمدي نژاد خبرو کې به ډېری وخت اسراییل او امریکا ته نېغ ګواښونه کېدل. همدا راز به د اسرییلو لومړي وزیر نتنیاهو هم له هرې موکې په ګټنې، نړیوال په دې قانع کول غوښتل چې اټومي وسلو ته د ایران لاسرسی ډېر نږدې شوی او ان په ۲۰۱۲ کال کې یې د ملګرو ملتونو کلنۍ غونډې ته د ایران اټومي بم یو کارتون هم وړاندې کړ.

دې خبرو نړیوال را وپارول او د ملګرو ملتونو امنیت شورا له لارې یې پر ایران او د ایران اټومي پروګرام کې پر ځینو لوړ پوړو چارواکو او سایستوالو بندیزونه ولګول.

**له نړیوالې ټولنې سره پر اټومي پروګرام هوکړه**

د احمدي نژاد په لرې کېدو او حسن روحاني په راتګ سره تر نږدې یوې لسیزې وروسته ایران له نړۍ سره پر خپل اټومي پروګرام خبرو ته کېناست او د امنیت شورا له پنځو دایمي غړو او اروپایي ټولنې سره یې یو تړون لاسلیک کړ.

دا تړون چې ایرانیان یې برجام بولي، د نړیوالې اټومي انرژۍ اداري کتونکو ته د نړیوالو منل شویو قوانینو په رڼا کې د ایران اټومي بنسټونو د کتنې او ځارنې اجازه ورکوي او ایران په دې مکلف ګڼي چې د خپلو نیمه بډایه یورانیمو ۹۸ سلنه زېرمې له مینځه یوسي، د سنټرفیوژونو شمېر را ټیټ کړي، د ټینګو یا درندو اوبو نوي تاسیسات جوړ نه کړي، تر راتلونکو ۱۵ کلونو تر ۳،۶ سلنه پورته یورانیم بډای نه کړي او له کوم مخکیني شرط پرته نړیوالو کتونکو ته د ځار اسانتیا برابره کړي.

تر برجام وروسته د ایران او غربي نړۍ اړیکې په ښه کېدو او د ایران اقتصاد په غوړېدو شو، خو له غرب سره د ایران دې اټومي مېلې ډېر دوام ونه کړ او د امریکا ولسمشریزو ټاکنو کې د ډونالډ ټرمپ تر کامیابېدو وروسته ټرمپ امریکا له دې تړون وویسته.

ډونالډ ټرمپ استدلال کاوه چې په دې تړون کې د ایران د توغندیز پروګرام په اړه هیڅ نه دي ویل شوي او دا تړون د امریکا ګټې نه تضمینوي.

که څه هم اروپا او نور هېوادونه له ایران سره په دې تړون ټینګ پاتې شول، خو د امریکا په وتلو سره د ایران پر اقتصاد او نړیوالو اړیکو یو ځل بیا تندر ولوېد.

**د اسراییلو اندېښنې او د ایراني ساینسپوهانو وژنې**

اسراییل چې له دې تړون سره له اوله مخالف وو، له دې تړون د امریکا تر وتلو وروسته په ۲۰۱۹ کال کې د اسراییلو لومړي وزیر نتنیاهو په یوه غونډه کې د ایران پر ځینو پټو اټومي فعالیتونو پریزنټېشن ورکړ او ېکې یې د ایران اټومي پروګرام تر شا ځینې داسې نا اشنا څېرې ښکاره کړې، چې نړۍ څه ان ایرانیانو لا سم نه پېژندل.

د دغو څېرو له ډلې یو هم د ایران دفاع وزارت پورې اړوند د ټکنالوژۍ او څېړنو ځانګې مشر محسن فخریزاده و، چې په دې وروستیو کې تهران ته څېرمه ترور شو.

که څه هم ایران او سراییل یو له بل سره ډیپلوماټیکې اړیکې نه لري او هم اسراییلیان ایران ته د تګ ویزه نشي تر لاسه کولی، خو د ایران اټومي ساینسپوهانو او د ایران اټومي او توغندیز پروګرام سره تړلو ایرانیانو د وینو پور تل پر اسراییلو اچول کېږي.

یوازې د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۲ کلونو تر منځ څلور ایراني ساینسپوهان ترور شوي. اسراییل د دغو وژنو په اړه څه نه وایي، خو دا یوه خبره تل کوي چې په هره بیه به د ایران اټومي پروګرام مخه نیسي.

پر اسراییلو دا تورونه هله نور کره او رسوا شول چې په ۲۰۱۲ کال کې ایران د یوه اټومي ساینسپوه د ترور په تور تهران د ایرانیانو یوه ډله ونیوه او یوه تورن پخپله اقرار وکړ چې دی د اسراییلو جاسوسي اداري موساد ته کار کوي او د موساد لخوا په اسراییلو کې د ایران اټومي ساینسپوهانو د ترور لپاره روزل شوی دی.

د نورو په څېر د فخریزاده د مرګ پور هم ایران پر اسراییلو واچاوه.

داسې برېښي چې دا ځل د اسراییلو او ځینو هغو خلیجي عرب هیوادونو تر منځ چې له ایران سره مذهبي، اقتصادي او سیاسي ستونزې لري؛ ملګرتیا به د ایراني اټومي ساینسپوهانو لپاره ژوند تر پخوا لا هم تریخ کړي.

خو ایرانیان او سیاستوال یې امید لري چې د ټرمپ په تګ او جوبایډن په راتګ سره به امریکا یوځل بیا اټومي تړون ته را وګرځي او د ایران اټومي ساینسپوهان به یو ځل بیا د ارام ساه واخلي.

## عامې روغتیا وزارت: په هېواد کې د کرونا ویروس ۲۹ سلنه پېښې ډېرې شوي

عامې روغتیا وزارت وایي، چې په هېواد کې د کرونا ویروس له امله د مړینې کچې لوړه شوې ده. یاد وزارت، یوځل بیا خبرداری ورکوي چې د کرونا ویروس دویمه څپه د خپرېدو په حال کې ده او باید روغتیایي سپارښتنې جدي وګڼل شي.

د دغه وزارت مرستیاله ویانده معصومه جعفري وایي، چې په هېواد کې په وروستیو اونیو کې کرونا ویروس پېښې ۲۹ سلنې ته لوړې شوي او له امله یې د مړو شویو په شمېر کې هم زیاتوالی راغلی دی.

هغه زیاتوي: «په وروستیو اونیو کې د کوویډ-۱۹ ناروغۍ له امله د تلفاتو سلنه مخ په لوړېدو ده او وزارت هم موده وړاندې د کرونا د دویمې څپې په اړه خلکو ته خبرداری ورکړی و.»

جعفري وایي، دوی د کرونا ویروس د لومړۍ څپې ستونزو ته په کتو، دا ځل په پلازمېنه او ولایتونو کې د دغه ویروس د کنټرول په موخه هڅې پراخې کړې دي.

په ورته مهال د افغان حکومت کابینې د ورمې ورځې په ناسته کې هم د کرونا ویروس د لا خپرېدو پر مخنیوي بحثونه شوي دي. د کابینې په ناسته کې ټینګار شوی، چې عامې روغتیا وزارت باید د همکارو بنسټونو په مرسته د کرونا ویروس د لا خپرېدو د مخنیوي په موخه خلکو ته د عامه پوهاوي ترځنګ، د مشورو ورکولو مرکزونه جوړ او د ولایتونو او مرکز روغتونونو ته د کرونا د ناروغانو د درملنې د تجهیزاتو په استولو کار وکړي. د کابینې په ناسته کې دغه شان د ودونو د تالارونو د تړلو طرحه هم تایید شوې ده.

د یادونې ده چې په ټول هېواد کې د دغه ویروس د لومړۍ څپې د خپرېدو پر مهال هم د ودونو تالارونه، ښوونځي، پوهنتونونه او نور ټول ښوونیز مرکزونه تړل شوي وو، خو د وضیعت په عادي کېدو یره بېرته پرانیستل شول.

دغه راز اوسمهال هم د یاد ویروس د دویمې څپې د مخنیوي په موخه په ټول هېواد کې دولتي او خصوصي پوهنتونونه او دولتي ښوونځي تړل شوي دي.

## ملي امنیت شورا: د نورو طالب بندیانو خوشي کول د سولې خبرو پر چټکتیا اغېز نه لري

ملي امنیت شورا وایي چې د طالب بندیانو خوشي کول او یا نه خوشي کول د سولې بهیر پر چټکتیا اغېز نه لري.

د ملي امنیت شورا ویاند رحمت الله اندړ سنیو ته په لېږلي غږیز پیغام کې ویلي چې د تېرو ۵۵۰۰ طالب بندیانو خوشي کېدو هم د سولې بهیر پر چټکتیا اغېز ونه کړ.

هغه ویلي، د افغان حکومت له خوا خوشي شوو طالب بندیانو د جګړې نه کولو په اړه ژمنې عملي نه کړې چې په وینا یې، افغان حکومت یې په ازادېدو د خلکو د اعتراضونو سره مخ شوی دی.

نوموړي زیاته کړې: «د بندیانو خوشي کول او یا نه خوشي کول، د سولې پروسې پر چټکتیا خاص تاثیر نه لري، دا تېر ۵۵۰۰ بندیان چې د حکومت لخوا خوشي شول، نه یوازې دا چې د سولې پروسې پر چټکتیا یې اغېز ونه وکړ، بلکې حکومت لا هم د خلکو تر اعتراض لاندې راغی او لا هم دا اعتراضونه دوام لري، د طالبانو د تاوتریخوالي د کمولو او د طالب بندیانو د جګړې لیکو ته د نه تللو ژمنې اخیستل



شوې وې، خو له بده بدخته چې نه یې تاوتریخوالی کم کړ او نه یې د جګړې لیکې پرېښودې.»

ملي امنیت شورا داسې مهال دا څرګندونې کوي چې په دې وروستیو کې په کابل کې د امریکا د سفارت شارژدافیر ویلي چې طالبان په څو نږدې ورځو کې د خپلو اوو زرو نورو بندیانو خوشي کولو تمه لري.

تر دې مخکې په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم ویلي وو چې روانه اونۍ د دغه ډلې سیاسي مرستیال او د قطر دفتر مشر ملا عبدالغني برادر له زلمي خلیلزاد سره د نورو مسایلو ترڅنګ د خپلو پاتې بندیانو ازادولو په اړه هم خبرې کړې دي. د یادونې ده چې د امریکا او طالبانو د سولې تړون پر اساس افغان حکومت له خپلو زندانونو څخه ۵۵۰۰ طالب بندیان ازاد کړل. تر دې مخکې افغان چارواکو ویلي وو چې یو شمېر طالب بندیان تر خوشي کېدو وروسته د جګړې لیکو تللي، خو طالبانو تر دې مهاله په دې اړه څه نه دي ویلي.



# چین و افغانستان دست به دست هم می دهند تا «ویروس فقر» را از بین ببرند

نویسنده: شي مونگ

شیوع ویروس کووید-۱۹در جهان در سال ۲۰۲۰ توجه جامعه را به موضوعاتی مانند «فقر زدایی»، «گرم شدن آب و هوا» و «روند صلح افغانستان» کاهش یافته است. متأسفانه مشکلات اجتماعی فوق الذکر برطرف نشده است، بلکه به دلیل شیوع ویروس کووید-۱۹ جدی تر شده است. اگر فقر با ویروس مقایسه شود، بسیاری از کشورهای در حال توسعه از جمله افغانستان باید برای مبارزه و از بین بردن این ویروس فقر زا دست به دست هم دهند. زیرا مشکلات اجتماعی بیشتر ناشی از فقر است.

مجموعه ای از معلومات که توسط UNDP به تاریخ ۸ اکتوبر سال ۲۰۲۰ منتشر شده است، نشان می دهد که افغانستان پس از بیشتر از چهار دهه جنگ اکنون یکی از فقیرترین کشورهای جهان است. آمارها نشان می دهد که ۷۰ فیصد افغانها سوء تغذیه هستند و تنها ۱۳ فیصد آنها به آب تمیز دسترسی دارند. اوسط عمر چهل سال است و میزان مرگ و میر کودکان زیر ۵ سال نیز به ۲٦ فیصد می رسد. دو سوم بزرگسالان شهروندان افغان بی سواد هستند. از هر چهار کودک افغان یک نفر قبل از ۵ سالگی فوت میشود.

چگونه فقر را از بین ببریم؟ شاید تجربه چین قابل توجه و درک بیشتر باشد. چین ۱.۴ میلیارد نفر جمعیت دارد و ریشه کن سازی فقر یک پروژه منظم و عظیم است. شیوع ویروس کووید-۱۹ امسال و سیاست سرکوب گرانه ایالات متحده امریکا علیه چین مشکلات این کشور را افزایش یافته است؛ اما آنچه مردم را خوشحال می کند، این است که توسعه اقتصادی چین به تدریج بهبود یافته و همه شاخص ها پایدار و رو به بهبود هستند. در راستای ختم سال جاری چین مطابق با اهداف تعیین شده به فقرزدایی دست یافت.

بعد از ظهر ۲۳ نوامبر، ولایت گویجو رسماً اعلام کرد که باقی مانده ۹ ولسوالی فقیر نشین این ولایت نیز از خط فقر خارج شده است. این نشان می دهد که هدف تعین شده از سوی دولت برای فقر زدایی در همه ۸۳۲ ولسوالی های فقیر نشین، تحقق یافته است. دولت چین اظهار داشت که از سال ۲۰۱۳، ۹۳ میلیون نفر از فقر رهایی یافته و به یک هدف مهم رسیده اند. جاو لیجیان سخنگوی وزارت امور خارجه چین در کنفرانس مطبوعاتی اخیر گفت که چین آماده است تا تجربه کاهش فقر را با سایر کشورهای در حال توسعه به اشتراک بگذارد. تجربه و اقدامات چین متنوع خواهد بود، اما یکی از اولویت های دولت و حزب حاکم تامین حق زندگی برای مردم، پیشرفت در زندگی مردم و زندگی خوب برای مردم است.

افغانستان همسایه نزدیک چین است و چین همیشه به فکر مردم افغانستان بوده است. امسال با ثبت رویداد اول ویروس کووید-۱۹ در افغانستان، چین که تازه بر مشکلات عظیم غلبه کرده بود، از حمایت افغانستان در مبارزه با بیماری همه‌گیر کووید-۱۹ شتافت و در حال حاضر در شش محموله بیش از ۲۰ تن مواد ضد ویروس کووید-۱۹ را به این کشور کمک کرده است. در سالهای اخیر، افغانستان از طریق «دهلیزهای هوایی افغانستان-چین» بیش از ۳۴ میلیون دالر امریکایی جلغوزه رابه چین صادر کرده است. برای آوردن درآمد قابل توجه به افغانستان و تحریک رشد اقتصادی در افغانستان.

علاوه بر این، تعدادی از پروژه ها مانند انستیتیوت فنی و حرفه ای ملی افغانستان، ساخت ساختمان بزرگ تدریسی و تالار نشست ها برای پوهنتون کابل یکی پس از دیگری اجرا شده و به نمادی جدید از دوستی دو کشور تبدیل شده است. همچنین لازم به ذکر است که از سال ۲۰۱۷، تحت حمایت دولت ها و ادارات عمومی صحی دو کشور، چین نزدیک به ۲۰۰ کودک مبتلا به بیماری مادر زادی قلب را برای معالجه به شینجیانگ چین اعزام کرده است که مورد ستایش گسترده اقشار مختلف افغانستان قرار گرفته است. در مورد مسئله صلح در افغانستان، چین همیشه از موضع منصفانه و عادلانه حمایت کرده، در کنار مردم افغانستان ایستاده، از روند آشتی ملی «به رهبری افغانها و متعلق به افغانها» قاطعانه حمایت کرده و با دخالت خارجی در امور داخلی افغانستان مخالفت کرده است.

در آینده، فضای زیادی برای همکاری بین چین و افغانستان در زمینه پیشگیری و کنترل ویروس کرونا، مبادلات اقتصادی و تجاری و بازسازی مسالمت آمیز وجود دارد. فراهم نمودن سرنوشت مشترک جامعه چین و افغانستان با آینده مشترک و پیشرفت مشترک ساخت «کمربند و جاده» مطمئناً مزایای ملموسی را برای دو ملت به همراه خواهد داشت. در برابر تهدیدها و چالش های «ویروس ها» مانند فقر، بیماری و تروریزم، تنها تقویت همکاری یگانه انتخاب صحیح است.

# په بين الافغاني مذاکراتو کې پرمختګونه؛

## عبدالله عبدالله: نن به د دواړو لورو ترمنځ جدي بحثونه پيلېږي



په دوحه کې د مذاکراتو په دوام، تازه د ملي مصالحې عالي شورا رييس وايي چې سر له نن به په دوحه کې جدي بحثونه پيل شي. هغه تازه د سولې په تړاو په يوه جوړه شوې غونډه کې د خبرو پر مهال وويل چې په مذاکراتو کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته شوي چې ورسره هيلې هم ډېرې شوې دي. په مذاکراتو کې داسې مهال د پرمختګونو خبره کېږي، چې د زندانيانو د خوشي کولو پر سر ناندرۍ رامنځته شوې دي. امريکا وايي، طالبان ښايي د خپلو پاتې زندانيانو د خوشي کولو غوښتنه وکړي، خو افغان حکومت دا ورسره نه مني.

سره له دې چې په دې وروستيو کې په هېواد کې جګړې شديدې شوې، خو د سولې په برخه کې هم له پرمختګونو خبر ورکړل شوی دی. تازه د ملي مصالحې عالي شورا رييس ډاکتر عبدالله عبدالله په خپلو څرګندونو کې ويلي، چې د سولې په خبرو کې پرمختګونو رامنځ ته شوي او د دواړو لورو مذاکراتي ټيمونو درې ورځې پر له پسې پر بېلو مسايلو خبرې کړې دي. د ده په خبره، سر له نن (چهارشنبې) به په دوحه کې جدي مذاکرات پيل شي. د ده په خبره: ((په دوحه کې په مذاکراتو کې د پام وړ پرمختګ رامنځته شوی دی. هيلې ډېرې شوې دي. دواړو لورو درې ورځې پرله پسې له يو بل سره پر اړوندو مسايلو خبرې کړې او ټاکل شوې چې په چهارشنبه به جدي بحثونه پيل شي)).

عبدالله عبدالله دا نه ده واضح کړې چې جدي بحثونه به څه وي، خو وايي چې پر اوربند توافق وخت ته اړتيا لري. سره له دې چې اوربند د افغانانو تر ټولو ستره غوښتنه ده او د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی هم وايي چې اوربند يې د بحثونو په سر کې دی، خو د ملي مصالحې عالي شورا رييس وايي چې پر اوربند د يوه توافق رامنځته کېدل به يو څه وخت وغواړي. د ده په خبره: ((اوربند لومړيتوب دی، د افغانستان د خلکو غوښتنه ده، خو پر دې مسئله هوکړې ته رسېدل به لږ وخت وغواړي)).

عبدالله وايي، تمه ده چې په دوحه کې مذاکرات به افغانستان يوې دايمي سولې ته ورسوي. د ده په خبره، که طالبان سوله کوي او تاوتريخوالی کموي، نو له خپل نرمښت به پښېمانه نه شي؛ ځکه دواړه لوري به په افغانستان کې پر يوه ګډ حکومت توافق ته ورسېږي.

بلخوا په دوحه کې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي يوه غړې فاطمه ګيلاني وايي، د اجنډا پر چوکاټ خبرې روانې دي او د دواړو لورو مذاکراتي پلاوي هره ورځ خپلو مذاکراتو او بحثونو ته ادامه ورکوي. نوموړې ويلي چې د افغانانو غوښتنې به په جدي توګه مطرح کوي او له هغو به دفاع کوي. د نوموړې په خبره: ((موږ خبرو ته ادامه ورکوو، د خلکو غوښتنې مطرح کوو، ټول هغه څه مو په ياد دي چې تاسې له موږ غوښتي دي)).

د سولې په اړه يادې څرګندونې داسې مهال کېږي چې د طالبانو د پاتې زندانيانو خوشي کول هم په يوه ناندريزه مسئله بدل شوي دي. امريکا وايي چې ښايي طالبان د خپلو پاتې بنديانو د خوشي کولو غوښتنه وکړي، خو افغان حکومت بيا هم ټينګار کړی چې د بنديانو خوشي کول د سولې راوستلو لار نه ده.

د ملي امنيت شورا د دفتر وياند تازه له رسنيو سره په خبرو کې ويلي چې په تېر پړاو کې د طالبانو شاوخوا پنځه زره بنديان خوشي شول، خو د جګړې په کمولو کې ګټور نه وو، نو له همدې امله بايد دا ومنل شي چې د اووه زره نورو بنديانو خوشي کول هم د جګړې په کمولو کې ګټور نه تماميږي.

# اروپايي ټولنه: د نوي ميکانېزم له مخې به د بشري حقونو سرغړوونکي له سختو اقداماتو سره مخ شي




د اروپايي ټولنې د بهرنيو چارو وزيرانو د هغه سيستم له جوړولو سره هوکړه کړې، چې له مخې يې يادې ټولنې ته زمينه برابروي چې په نړۍ کې د بشري حقونو پر سرغړوونکو بنديزونه ولګوي.

د اروپايي ټولنې شورا پر دغه سيستم يا ميکانېزم د دې ټولنې د بهرنيو چارو وزيرانو تر موافقې وروسته په يوه اعلاميه کې ويلي: «دا سيستم اروپايي ټولنې ته زمينه برابروي چې هغه اشخاص، شرکتونه، د دولتي او غيردولتي عاملانو په ګډون، نورې ادارې چې د جدي بشري حقونو د سرغړونو مسوول وګڼل شي، په دغو سرغړونو کې ښکېل وي، يا هم ورسره ارتباط ولري، په نښه کړي، دا که دا سرغړونې په هرځای کې شوې وي.»

دغه نوی ميکانېزم چې له بشري حقونو د سرغړوونکو د شتمنيو کنګل کېدل او د ويزو بنديز هم پکې شامل دي، نن (د ډسمبر پر ۱۰مه) د بشري حقونو د ورځې په مناسبت رسماً د تطبيق وړ دی.

د اروپايي ټولنې د بهرنيو چارو او امنيتي پاليسۍ لوی استازي په بروکسل کې پر نوي ميکانېزم تر هوکړې وروسته وويل: «ښه خبر دا دی چې موږ د اروپايي ټولنې د بشري حقونو د بنديزونو نړيوال نظام تاييد کړ، دقيقاً کال مخکې مو پر دغه سيستم سلا کړې وه، کال وروسته مو دا دی تاييد کړ، دا يوه تاريخي موافقه او د خپل ډول له مخې لومړۍ هغه ده. فکر کوم چې اروپايي اتحاديې ته به اجازه ورکړي چې په نړۍ کې د بشري حقونو جدي سرغړونې او تخطۍ په نښه کړي او دا هره قضيه جلا جلا نه څېړي چې پر هرې يوې بې پايه بحثونه وشي.»

د اروپايي ټولنې چارواکو ويلي، چې سم د لاسه به پر اشخاصو يا هم شرکتونو بنديزونه نه لګول کېږي، بلکې د ۲۰۲۱ز کال له لومړيو به تور ليست ته د نومونو ور زياتول پيل شي.

دغه مجازاتوونکي اقدامات د ډله‌ييزو وژنو، د بشريت پرضد جرمونو، له بشري حقونو د جدي سرغړونو او يا هم تخطۍ؛ لکه، شکنجې، غلامۍ، له عدالت هاخوا قتلونو او په خپلسري ډول د خلکو د نيولو په څېر اعمالو ته په پام کې نيول شوي دي.

د اروپايي ټولنې دا ميکانېزم به پر ځينو هېوادونو له مخکې د لګول شويو بنديزونو ځای ونه نيسي؛ لکه په سوريه، بېلاروس او وينزويلا کې چې له بشري حقونو د سرغړونې په تړاو له مخکې ځينې بنديزونه لګول شوي دي.

## د کتاب خبرې


# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها

◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېیمه برخه

### کشمیر




دولت: په راتلونکو شلو کلونو کې به عمر عبدالله د جمو او کشمیر اعلی وزیر وي. دا هغه حالت دی چې زه یې اټکل کوم، جدي وایم.

سپنها: تاسو د عمر عبدالله د کورنۍ په پرتله ډېر روان وضعیت نه شی ترلاسه کولای.

دوراني: په راتلونکو شلو کلونو کې به عمر عبدالله د کشمیر د مسلمانانو د کنفرانس یو غړی وي.

دولت: هغه د هر څه شي غړی کېدلی شي ښاغلیه. عمر عبدالله خو عمر عبدالله دی. هغه لا تر اوسه ۵۰ کلن هم نه دی، نو په راتلونکو شلو کلونو کې به شاوخوا ٦۰ کلن وي. مناسب عمر دی.

دوراني: څوک یې په ډاډ ویلی شي چې داسې به ونه شي؟

دولت: هېڅوک. که تاسو له ما پوښتنه وکړې، ډېر احتمال یې هم شته. همدارنګه نوموړی به تر محبوبې وروسته اعلی وزیر وي.

دوراني: په دې کې منطق شته. د امریکا او روسیې تر منځ ستړې سیالۍ ته وګوره. شل کاله مخکې شوروي اتحاد ونړېد او امریکا د یوه یوازېني زبرځواک په توګه پاتې شوه. نن موږ یو ځل بیا دوه د پام وړ زبرځواکونه لرو: امریکا او په خپله روسیه یا د روسیې-چین ترمنځ یو. اروپا نوره د پخوا په څېر د امریکا متحده نه شي پاتې کېدای. وضعیت داسې دی چې بېلابېل قطبونه د بیلانس خوا ته روان دي. حالت با ثباته نه برېښي، خو د ثبات وړ دی. خو ولې یوازې په روان وضعیت (status quo) کې پاتې کېدل؟ ما په دې اړه د کشمیر په بحث کې یوه څغلنده یادونه وکړه. زه اوس دې ته د جبر روان وضعیت په سترګه ګورم کوم چې په لړه کچه ګواښمن بدیلونه، تګلارې او ستراتېژۍ په ځان کې رانغاړي او همدا لامل دی چې ولاړ حالت یې رامنځته کړی.

سپنها: ایا په راتلونکو شلو کلونو کې به سارک سازمان شته وي؟

دوراني: زه نه پوهېدم چې سارک شته او یا یو بې مانا شی دی. په دې مانا چې یاد سازمان «د لومړي استعمال ممنوعیت» تر نامه لاندې د هند تر اټومي پالیسۍ هم بې ارزښته دی. سارک یوازې داسې یو جوړښت دی چې په مټ یې کولای شې مخامخ کېنې او یو څو کلیمې سره تبادله کړې.

دولت: حتی «په لرګین پله باندې تګ» ته یې هم زمینه نه ده برابره کړې. د امریکا د ولسمشر کېنیډي او د روسیې د ولسمشر خروشچوف تر منځ په یوه تبادله شوي لیک کې د روسیې ولسمشر پر یوه سیند د پل په اړه خبرې کوي. هغه وایي، خلکو ته ووایه چې هلته پر سیند باندې یو پل دی او کله چې خلک باور وکړي چې هلته یو پل دی، که پل وي هم نه، هدف به ترلاسه کړي. په زړه پورې ده.


دوراني: مخکې له دې چې افشا یې کړو، پاکستان اټومي بم درلود. که خلک شکمن یا خبر شوي وای چې موږ اټومي وړتیا ترلاسه کړې، زموږ هدف سره یې مرسته کوله. زه موافق یم، خو په دې خبره کې یوه ستره مانا ده.

دولت: په دې مانا چې هغوی پر سیند باندې حتماً یو پل جوړوي. خلک باید باور وکړي چې هلته یو پل شته. دا موضوع د هند او پاکستان په اړیکو کې ډېره مهمه ده. خلک باید باور وکړي چې هلته یو پل شته، ما د هیلې پر ځای باور کلمه وکاروله ما ویل ستا به خوښه نه شي ښاغلیه. کله چې د ۲۰۰۵ کال په اپرېل کې مشرف د کرېکټ لوبې د نندارې لپاره ډیلي ته راغلی و، زموږ یو شمېر ملګري او د کورنۍ غړي هم په لوبغالي کې وو او زما یو وراره له یوه پاکستاني ملګري سره لوبغالي ته راغلی و. هغه په لاهور یا کراچۍ کې تجارت کاوه. ما وویل، ښه راغلاست، څښاک مې ورکړ. د بېرته تګ په وخت کې یې وویل، ما کولای شول چې په کراچۍ یا لاهور کې اوسم. د هغه ځای او دې ځای تر منځ توپیر نه شته. د پنجاب او پنجاب تر منځ اړیکې دغه ډول دي. نو د خلکو او خلکو ترمنځ اړیکې ډېرې مهمې دي او باور- هیله نه وایم- ډېر مهم دی. زه په دې باید اعتراف وکړم کله چې په IB کې وم، د خلکو تر منځ اړیکې راته هسې بې مانا ښکارېدې. ما به ویل، پاکستان له موږ سره په کشمیر کې زیاتی کوي، نو د خلکو ترمنځ اړیکې به څه ګټه ولري؟ خو وروسته مو ډېر ولیدل او ډېر مو تجربه کړل.

دوراني: دلته د شرایطو ارزونه مهمه ده. کله چې یوه ارزونه وشي، یو رهبر خلکو ته هیلې ورکوي چې هر څه به سم شي. دا د هغه دنده ده.

دولت: یوه بله خبره: هند د پاکستان په پرتله ستر هېواد دی، کوم چې پنجاب جمع یو څه دلته او هلته. په هند کې کله چې تاسو له ډیلي څخه وځی، نو څوک به د پاکستان په اړه اندېښنه ونه لري؟ په کلکته یا په سوېل کې روڼ اندي له پاکستان سره د ښو اړیکو په اړه خبرې کوي. په ډیلي کې به د سوېلي هند یا پنجاب کلتور ووینې چې سړی فکر کوي هر وخت باید ټکر ته چمتو اوسې، خو په اصل کې په دې باور یو چې هېڅ پېښه به ونه شي. خو که کلکتې، حیدراباد، چېنای یا بنګلور ته لاړ شې، نو ډېر متفاوت چاپېریال به وومومې. **دوام لري...**

# زما ژوند له طالبانو سره




◀ اکسوس کتابپلورنځی

د کتاب لیکوال وایي: د څلورو هغو کلونو په دوران کې چې ما په ګوانتانامو کې تېر کړل، داسې څه مې واورېدل او مې لیدل چې هېڅ د منلو وړ نه وو، دا هرڅه په کېمپونو کې پېښېدل. له بندیانو سره څو ځله داسې پېښې وشوې چې د ټولو اسلامي، بشري، انساني او نړیوالو قانونو خلاف وو .په ۲۰۰۳ کال کې د روژې میاشتې په پیل کې موږ ته د زندان د مسوولینو لخوا وویل شول چې خرما، شات او یو څه ځانګړې خوراکي توکي به راته راوړي، که څه هم دا عادي شیان وو، خو بیا هم موږ ورته خوښ وو.

د روژې په دویمه ورځ له پوځیانو څخه یوه یې موږ ورټلو، له ۴۸ بندیانو څخه یوازې موږ دریو یې عکس العمل وښود او له موږ څخه یوه پوځي د اوبو په بوتل وویشت، بندي ژر له موږ څخه جلا کړل شو او یوې ځانګړې خونې ته د سزا ورکولو لپاره یوړل شو. تر دې یوه ورځ وروسته راته وویل شول چې موږ ته به سزا راکول کېږي، موږ دریو ته به د ۴۴ ورځو لپاره د خوړو او څښلو لپاره اوبه نه راکول کېږي. موږ دا خبره له یوه لوړپوړي چارواکي سره شریکه کړه، څو د روژې د میاشتې د احترام په خاطر خپله پرېکړه بیرته واخلي او د یوه بندي د بدې رویې له امله ټولو ته سزا ورنه کړي؛ خو د هغه جواب هم منفي و او ویل یې، دا د پوځ اصول دي، یوې ډلې ته د یوه غړي له امله سزا ورکول کېدای شي .

یو بل وخت یوې ښځینه پوځۍ د قران کریم بې حرمتي وکړه، د کوټې د تلاشي په وخت کې یې قران کریم تر خونې د باندې وغورځاوه، دې پېښې د بندیانو احساسات راوپارول، په اعتصاب یې لاس پورې کړ او پرېکړه یې وکړه چې جامې به نه بدلوي، بهر به نه وځي او له هرې لارې چې کېدای شي پوځیان به بېرون باسي. اعتصاب سمدستي شروع شو، لېکن د دې پر ځای چې مسوولین له بندیانو سره ووینې، د هغوی غوښتنه پوره کړې او ښځینه پوځۍ ته د هغې د کار له امله سزا ورکړي، برعکس یې له جبر او زور څخه کار واخیست .

بې هوښه کوونکی ګاز په بندیانو وشیندل شو، پوځیان کوټو ته د ننه شول او هر بندي یې له خپلې خونې بهر ته راوویست . له ټولو نه هر څه واخیستل شول، سرونه او ږیرې یې وخرېیل شول، منځنی بلاک له شوره ډک شو او هیڅوک خوب ته نه پرېښودل کېدل . بل وخت په یو ځانګړي بلاک کې چې اندیانا نومېده، بندیانو د تکبیر نارې وهلې او د زندان پنجرې یې ټکولې، هیڅوک هم نه پوهېدل چې په اندیانا بلاک کې څه پېښ شوي. لږ وروسته خبر شوو چې پوځیانو یو عرب ورور چې مشال نومېده وهلی، ډېرو بندیانو فکر کړی و چې ګواکې مشال وژل شوی، دوی د زندان پنجرې ټکولې، چیغې یې وهلې او د مشال په باره کې یې معلومات غوښتل . امریکایانو لومړی غبرګون د امنیت په زیاتوالي وښود، خو وروسته یې اعلان وکړ چې مشال ژوندی دی، خو په یوه نازک روغتیایي حالت کې دی . دوې میاشتې وروسته مو ولیدل چې د مشال ټول وجود فلج شوی، نه خبرې کولای شي، نه تګ کولای شي او نه هم کېښناستلای شي. په ګوانتنامو کې هر شی تجارت ګرځېدلي وو، رویې او امتیاز په محقق پورې اړه درلوده، که بندي د محقق پوښتنو ته ځواب ویلای وای او د دوی ټولې غوښتنې یې پوره کړې وای، هر څه تشناب کاغذ، د اوبو بوتلونه او آن څلورم کېمپ ته وړل چې نسبت نورو کېمپونو ته د استوګنې یو هوسا ځای و، دا ټول ورته ممکن وو. هغو بندیانو چې د دوی په خوښه به یې کار نه کاوه، سزا ورکول کېده. ملافاضل ته ۴۱ ورځې له دې امله سزا ورکړل شوه چې د تحقیق په دوران کې یې د محقق پوښتنو ته ځواب نه وایه، د ورځې لخوا به یې د ده د تحقیق خونه فوق العاده سړه کړه، د شپې له طرفه پوځیانو ته دنده ورکړل شوې وه څو نوموړی ویښ وساتي او د ورځې به یې د زندان په صحن کې ګرځاوه څو خوب ونه کړي . په هر صورت، بندیان د دې نړۍ تر ټولو بې وسه قشر دی او بندي ګوانتنامو ته له وړل کېدو وروسته نور هیڅ په انسان نه حسابېده.

مینه وال کولای شي یاد کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

**روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه**

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ١ | د اسیا د نویو پېړیو تاریخ | جان محمد پیغام | ۲۰۰؋ |
| ٢ | د هنر تاریخ | جان محمد پیغام | ۱۰۰؋ |
| ٣ | د افغانستان د منځنیو پېړیو تاریخ او د مستقلو دولتونو تشکیل | مستعلي نیازی | ۱۸۰؋ |
| ٤ | جادوی فکر بزرگ | دیوید جی. شوارتز/مهین خالصی | ۳۵۰؋ |
| ٥ | ۳۳استراتیژی جنگ | رابرت ګرین/فاطمه باغستانی | ۵۰۰؋ |
| ٦ | یو شپون و | سعدالدین شپون | ۱۵۰؋ |
| ٧ | ادبي نقد | سعدالدین شپون | ۱۵۰؋ |
| ٨ | د مرګ مسافر | ایم ای اسلم راهي/باطن شاه عبدالرحیمزی | ۱۵۰؋ |
| ٩ | زوړ سړی او سیند | ارنېسټ همینګوی/سعدالدین شپون | ۱۰۰؋ |
| ١٠ | میتودولوژي | نصیراحمد ښاد | ۱۵۰؋ |
| ١١ | اداره او منجمېنټ د ټولو لپاره | خان آغا شینواری | ۱۸۰؋ |
| ١٢ | زندګی من با طالبان/عبدالسلام ضعیف | اصیله رسول و الهه رسول | ۳۰۰؋ |
| ١٣ | میتودهای پالیسی سازی عامه | میلاد بارکزی | ۱۵۰؋ |
| ١٤ | رازهای زندګی | جمشید رسا | ۳۰۰؋ |
| ١٥ | مدیریت منابع بشری | عبدالطیف رحمانی/حشمت الله ناصری | ۲۵۰؋ |
| ١٦ | طالبان از کندهار تا مزار | عبدالسلام ضعیف/شیراحمد سعیدی | ۳۳۰؋ |
| ١٧ | د بنسټیزو ستونزو حللارې | عبدالسلام ضعیف/محمدافضل ذاکر | ۱۲۰؋ |
| ١٨ | پښتو معاني | محمود مرهون | ۳۰۰؋ |
| ١٩ | حقوق فامیل جلد اول و دوم | عبدالقادر عدالت‌خواه | ۳۲۰؋ |
| ٢٠ | د تاریخي ژبپوهنې مبادي | وینفرید فلیپ لیهمن/بایزید اڅک- محمود مرهون | ۲۵۰؋ |
| ٢١ | Harry Potter The Complete Series | J.K. Rowling | ۱۸۵۰؋ |
| ٢٢ | Nineteen Eighty-Four 1984 | George Orwell | ۱۷۰؋ |
| ٢٣ | The Perks of being a wallflower | Stephen Chbosky | ۱۳۰؋ |
| ٢٤ | The End of History and the Last Man | Francis Fukyama | ۱۸۰؋ |
| ٢٥ | THE Four Agreements | Don Miguel Ruiz | ۱۵۰؋ |
| ٢٦ | MODEL BUSINESS LETTERS EMAILS ADN OTHER BUSINESS DOCUMENTS | Shirley Taylor | ۳۵۰؋ |
| ٢٧ | ریاض الصالحین پښتو ژباړه لومړی او دویم ټوک | ابو زکریا یحیی/عبدالهادي | ٤۵۰؋ |
| ٢٨ | ارتباطات انسانی جلد اول و دوم | علی اکبر فرهنګی | ۳۰۰؋ |
| ٢٩ | دریځ | حبیب الله رفیع | ۸۰؋ |
| ٣٠ | زما ژوند له طالبان سره | عبدالسلام ضعیف/محمد افضل ذاکر | ۳۳۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۹۲,۲ |
| Rp. | ۴۷۹ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۱,۶ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیاني

# یو ښه نارینه دا ځانګړتیاوې لري

ژباړه: عطامحمد میاخیل

مور تول په بشپړه توګه په خپل مقابل لوري کې د ښو ځانګړتیاوو په لټه کې یو او له مور څخه هر یو خپل ځانګړي معیارونه لري، خو کابو دا معیارونه ګډ دي او ډېری کسان پرې د نظر اتفاق لري. ځینې منفي ځانګړتیاوې هم شته او خوښېږي مو، چې هغه په خپل مقابل لوري کې ونه وینو، خو ایا واقعاً پوهېږو چې دا منفي ځانګړنې څه دي؟ ایا پوهېږو چې یو نارینه باید په خپله اړیکه کې کومې غلطۍ ونه کړي او کومې ځانګړتیاوې باید ونه لري؟

**د یوه غوره نارینه ځانګړنې**

**۱ـ هېڅکله مو په ظاهر باندې نیوکه نه کوي**

(که وېښتان مو یوازې لږ شان لوړ وی)، (که کولای دې شوای چې خپل وزن څو کیلو کم کړې)، (که کولای دې شوی په ښه توګه سینګار وکړې) او داسې نور څیزونه هم شته، چې ښه نارینه یې هېڅکله په خوله نه راوړي او په ظاهر باندې مو داسې قضاوت نه کوي، چې د خپل ځان په اړه بد احساس پیدا کړی. هغه نارینه چې دا ډول خبرې کوي، نو هڅه کوي چې ستاسو ارزښت کم وښیي، څو په ځان باندې د باور احساس ونه کړی او په دې ترتیب خپل ځان هوسا کړي، چې هغومره قوي نه یاست، که اړتیا پیدا شوه، کولای شی چې پرې یې ږدئ. په حقیقت کې د هغه دا تګلاره ستاسو د کنټرول او دغه راز ستاسو پر روح باندې د تېرې لپاره ده. هرڅومره چې ژر کېدای شي، له دا ډول نارینه څخه لرې شئ.

**۲- هېڅکله مو په خصوصي حریم باندې برید نه کوي**

په یوه روغه او سالمه اړیکه کې اړتیا نشته، چې کوم څه پټ شي؛ ایمیلونه، پیغامونه او داسې نور، خو دا په دې مانا نه ده چې د ژوند شریک مو دا حق لري، چې په موبایل یا کمپیوټر کې مو پلټنه پیل کړي، هر هغه څوک چې دا کار کوي، نو دا ښکاره کوي چې په خپل مقابل لوري باندې سخت بې باوره دی ( البته په دې شرط چې کوم کار مو نه وي کړی، چې د ځان په اړه مو د خپل ژوند د شریک بد ګوماني را پیدا کړې وي). دا ځانګړنه هېڅکله نالیدلي او کمه مه نیسئ.

**۳- هېڅکله مو نه ناهیلي کوي**

یوه له هغو نښو نښانو څخه چې څرګندوي یو څوک پر خپل ځان باندې بشپړ باور لري، دا ده چې له نورو څخه ملاتړ کوي او هغوی هڅوي. یو ښه نارینه تل کولای شي له خپلو شاوخوا خلکو څخه ملاتړ وکړي او وې ستایي او هېڅکله هغوی نه ناهیلي کوي.



پر ارزښت باندې مو پوهېږي، هېڅکله مو دې ته نه اړه کوي، څو داسې احساس وکړئ چې خپل ارزښت ورته ثابت کړی. هغه شېبه مو چې داسې احساس وکړ، چې اړه یاست خپل نارینه ته دا ثابته کړئ، چې ارزښتمنه یاست او ځانګړې وړتیا لری، نو دا هغه شېبه ده چې باید د دې نارینه د پرېښودلو تصمیم ونیسئ. ستاسو ترڅنګ د یوه نارینه د اوسېدو دلیل، باید دا وي چې څومره ښه او لایقه یاست، پرته له دې چې تل مجبوره واوسئ، خپل ځان ثابت کړی.

**۴- هېڅکله داسې یو کار نه کوي چې احساس وکړی هغه ته لومړیتوب نه لری**

که څه هم یوه اړیکه نباید د یوه کس ټول ژوند را ونغاړي او فرد ته دا فرصت ورنه کړي، چې خپلو مشخصو کارونو ته رسیده ګي وکړي، خو پرته له شکه باید د ژوند ستره برخه یې وي. یو کس باید خپل ټولنیز ژوند خوندي کړي، خو په ټولنیز ژوند کې د فعالو اوسېدو او ټولنیز ژوند ته د لومړیتوب ورکولو تر منځ لوی توپیر شته. که داسې یوه مېرمن یاست، چې د خپل ژوند د نارینه د لومړیتوبونو د لېست په پای کې ځای لری او تل باید په تمه پاتې شی، څو هغه خپل ټول کارونه تر سره کړي او وروسته تاسو ته راشي، نو د مهربانۍ له مخې زغم ولرئ، صبر وکړئ او جدي تصمیم ونیسئ، څو اړ نه شی چې څو کاله وروسته د خپلې ځوانۍ د ورځو له لاسه تللو افسوس وکړی.

**۵-هېڅکله له تاسو سره خیانت نه کوي**

خیانت ښایي د هر چا لپاره یوه ځانګړې او خاصه مانا ولري، مهمه دا ده چې تاسو او مقابل لوری مو د خیانت پر سر یوې هوکړې ته ورسېږی او تاسو دواړه په دقیقه توګه پوه شی، چې په اړیکه کې مو خیانت څه دی. یو ښه نارینه پر هغو ژمنو او هوکړو باندې ټینګ درېږي، کومې چې له تاسو سره یې کړې دي او له پامه یې نه غورځوي.

**٦- هېڅکله تاسو ته بې احترامي نه کوي**

دا ټکی ډېر ساده، خو بنسټیز دی چې تر ډېره نالیدلی نیول کېږي. یو ښه نارینه تاسو او خپلو ټولو شاوخوا خلکو ته درنښت کوي او هېڅکله یې نه خوښېږي، چې تاسو ته سپکاوی وکړي. توپیر نه کوي چې ستاسو نارینه څومره پوه او ځیرک دی، څومره زده کړې یې کړې دي یا په کوم ټولنیز پوړ کې قرار لري؛ په هر حال، هغه نارینه چې شعور لري او روڼ اندی دی، ښځه له ځانه ټیټه نه ګڼي او هغې ته سپکاوی نه کوي، بلکې ټولو انسانانو ته په یوه اندازه ارزښت ورکوي او جنسیتي لید نه لري.

**۷- له ستونزو څخه نه تښتي، بلکې مدیریت کوي یې**

یو ښه نارینه، له ستونزو سره په مخامخ کېدو کې څه په کورني چاپېریال کې او څه په مسلکي فضا کې، دا په ښه توګه درک کوي چې هېڅ ستونزه پرته له دې چې ورسره مخامخ شو، نه حل کېږي. هغه په دې باندې پوهېږي چې له ستونزو څخه تېښته، د هغو حل کول ځنډوي او دغه راز پېچلې کوي یې. له ستونزو څخه تېښته او له هغو څخه انکار کول، د کمزورو انسانانو کار دی.

**۸- له تاسو څخه بده ګټه نه اخلي**

بده ګټه اخیستل او بد چلند کول بېلابېل ډولونه لري او یوازې فزیکي نه دي. یو کس کولای شي له بل کس سره د ژبې (کلامي) بد چلند ولري، ټول بد چلندونه او بدې ګټې اخیستنې، په یو څه کې ګډ ټکی لري: د مقابل لوري له تخریب سره لېوالتیا. یو ښه نارینه پوهېږي، چې پر نفس باندې اعتماد او پر ځان باندې باور، د خپل ځان له دننه یې څخه یې سرچینه اخلي، نه د نورو له سپکاوي او تخریب څخه. ډېر ژر له دا ډول نارینه څخه واټن واخلئ، هغه به ښه نه شي او تاسو د ښو او غوره شرایطو وړ یاست.

**۹- ژمنه نه ماتوي او رښتینی دی**

په خپله ژمنه باندې درېدل او رښتینولي د یوه ښه نارینه، یوه له غوره ځانګړتیاوو څخه ده، یانې یو ښه نارینه په خپله ژمنه باندې ټینګ درېږي او که تاسو ته ووایي، چې کوم کار به تر سره کړي، نو هرومرو یې تر سره کوي، دا نارینه هغه څوک دی چې کولای شی پرې اعتماد او تکیه وکړی. په خپله ژمنه باندې درېدونکي او رښتیني نارینه ډېر زیات د درنښت او احترام وړ دي.

**۱۰- بدبین نه دی او منفي لید نه لري**

یو ښه نارینه مثبت لید لري او په ځانګړې توګه له منفي لید څخه په ډکه نننۍ نړۍ کې. کولای شي ښېګڼې او مثبت څیزونه وویني. هغه نارینه چې خوشبین دی، نور ځان ته را جذبوي او ځکه چې په خپل ژوند کې خوشاله دی، کولای شي چې دا خوشالي تاسو ته هم در ولېږدوي. د یوه مثبت فکره نارینه یوه اصیله مُسکا بسنه کوي، څو مو حالت ښه کړي.

**۱۱- ذهن یې تړلی او محدود نه دی**

هغه نارینه چې د نویو بدلونونو او تجربو په اړه نرم، انعطاف منونکی او پرانیستی نه دی، نه یوازې خپل ځان، بلکې خپلو نږدې کسانو ته هم درد او عذاب ورکوي. تاسو باید د هغه چا ترڅنګ واوسئ، چې وکولای شي له تاسو سره اوږه په اوږه نوي څیزونه کشف کړي، ستاسو د نړۍ او د هغې د بدلونونو په اړه نرمښت وښیي.


**۱۲- ستاسو له خوښیو او بریاوو څخه نه خواشینی کېږي**

ستاسو بریا که څه هم د وزن د کمښت په پروګرام کې وي او څه د یوې کاري پروژې په پای ته رسولو کې، باید ستاسو د نارینه د خوشالۍ سبب هم وګرځي. ډېره زیاته مهمه ده، څو داسې یو نارینه په خپل څنګ کې ولری چې وکولای شي ستاسو لاسته راوړنې ولمانځي او لپاره یې جشن جوړ کړي او دغه راز خپله بریا یې وګڼي.

## امریکایي رسنۍ: په هلمند کې د امریکا په وروستي هوایي برید کې د القاعدې او طالبانو مهم غړي وژل شوي

امریکایي رسنیو خبر ورکړی چې په هلمند ولایت کې د امریکایي ځواکونو په وروستي هوایي برید کې د القاعدې او طالبانو تر ۴۰ پورې مهمو غړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د امریکایي ځواکونو دا هوایي برید د تېرې پنجشنبې په ورځ د هلمند په نادعلي ولسوالۍ کې شوی و. وسله والو طالبانو د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ادعا کړې وه چې د امریکایي ځواکونو په دغه برید کې یو شمېر ملکي وګړي او طالبان وژل شوي دي. طالبانو دغه کار د دوحې له تړونه سرغړونه بللې وه. خو په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو ویاند ډګرمن سوني لګیټ ویلي وو چې دوی دغه برید له افغان ځواکونو د دفاع په موخه ترسره کړی دی. هغه زیاته کړې وه چې یاد هوایي برید د دوحې له تړون سره سم چې د اړتیا پر مهال به امریکا له افغان ځواکونو دفاع کوي، ترسره شوی دی. نوموړي زیاته کړې وه چې د ملکي تلفاتو په اړه څېړنې کوي.



بلخوا ځینو امریکایي رسنیو خبر ورکړی چې په نادعلي ولسوالۍ کې هوایي برید د افغانستان له ملي امنیتي ځواکونو سره په همغږۍ ترسره شوی دی. سرچینې زیاته کړې چې په دغه هوایي برید کې د القاعدې د مهمو اتو غړو په ګډون ۴۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د «لانګ وار ژورنال» په نوم یوې امریکایي رسنۍ د استخباراتي سرچینو په حواله خبر ورکړی، چې په وژل شوو کې د عبدالله بلوچ په نوم د طالبانو له خوا د فراه ولایت لپاره ټاکل شوی والي هم و. په دغه راپور کې راغلي چې د القاعدې غړي په ایران کې مېشت دي او کله ناکله له سرحد څخه اوړي او په افغانستان کې عملیات ترسره کوي.

دا په داسې حال کې ده چې د ملي امنیت ریاست د معلوماتو له مخې، په تېرو ۱۵ میاشتو کې د القاعدې مهم غړي د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې وژل شوي دي.

بلخوا د هلمند د والي ویاند عمر ځواک هغه مهال رسنیو ته ویلي وو چې د نادعلي په برید کې د یو شمېر قوماندانانو ترڅنګ، ۱۸ طالبانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. یوې بلې سرچینې ویلي چې په دې پېښه کې د القاعده شبکې د غړو په ګډون ۱٦ طالبان وژل شوي او یو موټربم یې هم له منځه تللی دی.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱۹مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر نهمه | ٦٤٣مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۹ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۷ | ۹ |
| -۲ | -۲ | ۲ | ۲ | ٦ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۹ | لمر ختل ۰٦:٤٧ | ماسپښین ۱۱:٤٦ | مازیګر ۰۲:۲۵ | ماښام ۰٤:٤٤ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ



اروپايي ټولنه: د نوي میکانیزم له مخې به د بشري حقونو سرغړوونکي له سختو اقداماتو سره مخ شي

۳

## روحاني: له نړیوال مخالفت سره سره، د سوریې د رژیم ملاتړ ته دوام ورکوو



د ایران ولسمشر حسن روحاني وایي، چې له نړیوالو مخالفتونو سره سره، د سوریې د رژیم ملاتړ ته ادامه ورکوي، تر څو دغه هېواد په خپلې کورنۍ جګړې کې وروستۍ بریا ته ورسېږي. د ایران د ولسمشر د ویاند په وینا، حسن روحاني دا خبرې په تهران کې د سوریې له بهرنیو چارو وزیر فیصل مقداد سره د لیدنې پر مهال کړې دي. وروسته له دې چې د سوریې د بهرنیو چارو پخوانی وزیر ولید المعلم مړ شو، دا بهر ته د فیصل مقداد لومړی رسمي سفر دی.

د یادونې ده چې په سوریه کې د ۲۰۱۱ ز کال د مارچ په میاشت کې د حکومت د مخالفانو له خوا سره شخړې پیل شوې چې تر اوسه پکې تر څلور لکو ډېر کسان وژل شوي او په میلیونونو نور بې کوره شوي دي.

د سوریې جګړه وروسته له هغې پراخه او اوږده شوه چې سیمه ییزو او نړیوالو لوبغاړو پکې په مستقیمه توګه مداخله وکړه. روسیه، ایران او ځینې نور هېوادونه د سوریې د حکومت ملاتړ کوي، خو امریکا، عربي هېوادونه او نور سیمه ییز او نړیوال لوبغاړي بیا د حکومت له مخالفینو څخه خپل ملاتړ څرګند کړی دی. که څه هم امریکا تر دې وړاندې په سوریه کې د ایران له مداخلې سره مخالفت ښودلی، خو د روحاني د تازه څرګندونو په غبرګون کې یې تر اوسه څه نه دي ویلي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ٦۸ میلیونو واوښتې

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ٦۸ میلیونه او ۵۹ زره او ۱٦۹ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۵۵۳ زره او ۵۷۰کسان مړه شوي او له ٤۷ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱۵ میلیونه او ۳۷۲ زره او ۵۸ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۲۹۰ زره او ۷۹۸ نور امریکایان ترې مړه شوي دي. له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ۷۰۵ زره او پنځو مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ٦۲۸ زره او ٦۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د دوه میلیونه او ۵۱۵ زره او نهو مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۲۹۵ زره او ۹۰۸مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. دغه راز ایټالیا، برېټانیا، هسپانیا، ارجنټاین او کولمبیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## وفایي‌زاده: در پی شیوع کرونا بخش هوانوردی افغانستان صدمیلیون دالر زیان کرده است



گسترش ویروس کرونا در کشور تا کنون صد میلیون دالر ادارۀ هوانوردی ملکی و شرکت‌های هوانوردی «کام ایر» و «آریانا» را زیانمند ساخته‌است.

محمدقاسم وفایی‌زاده، رئیس ادارۀ هوانوردی ملکی کشور می گوید که برای بهبود و توسعۀ بخش هوانوردی کشور، برنامه‌های گونه‌گون از جمله سرمایه‌گذاری در زیربناهای میدان هوایی بین‌المللی حامد کرزی به‌شمول ساخت یک ترمینل نو در این میدان هوایی که به‌گونه مشترک از سوی دولت و بخش خصوصی عملی می‌شوند، روی دست گرفته شده‌است.

او افزود که تا کنون گسترش ویروس کرونا ۴۰ میلیون دالر درآمدهای شرکت‌های هوانوردی کام ایر و آریانا را و نیز ٦۰ میلیون دالر درآمدهای این اداره را در مقایسه با سال گذشته، کاهش داده‌است.


او می افزاید: «شاید شرکت‌های هوایی با ما موافق باشند که پالیسی حمایوی ادارۀ هوانوردی افغانستان موفق بوده و به رغم زیان و ضرر مالی که شرکت‌های هوایی ما به ویژه کام ایر و آریانا متحمل شده، اما هیچ کدام شان در وضعیت نیستند که در خطر ورشکستگی،باشد.»

اما سیدعمر صبور، رئیس میدان هوایی بین‌المللی حامد کرزی می‌گوید که بهتر است برای کابل، یک میدان هوایی بین‌المللی دیگر ساخته شود.

او افزود: «میدان هوایی حامد کرزی در داخل شهر کابل، در داخل خانه‌های مسکونی قرار گرفته، شما ببینید که ما مصؤن نیستیم از دست غاصبین زمین، اطراف میدان که نباید اینقدر خانه و بلند منزل جور می‌شد، حتی در نزدیک قراول اول میدان هوایی حامد کرزی، یک هوتل جور شده که شبانه این اداره را با مشکل مواجه می‌سازد.»


## ژوند

## غواړی چې تندرست واوسی؟



که غواړی روغه ستړه ولری، نو د شپې لخوا سپک خواړه وخورئ او سهارنۍ ته مو ارزښت ورکړئ. هڅه وکړئ چې په غذايي وختونو کې ډېر زيات خوراک ونه کړئ. په بېړې سره غذا مه خورئ او خواړه ښه وژوېئ. خپل غاښونه په ورځ کې یوځل حتمي بورس کړئ؛ غوره ده چې له ویده کېدو مخکې یې بورس کړئ. فزیکي فعالیتونه تر سره کړئ او یا هم پیاده تګ وکړئ. هر سهار دوې پیالې ترمې اوبه وڅښئ. که د ژر غوصه کېدو ستونزه لری، هڅه وکړئ چې خپل ارامښت مو وساتئ. ښښنه وکړئ. که کولای شی میاشت کې یوه یا څو ورځې روژه ونیسئ. له نشه يي توکو ځان وساتئ. خواړه لږ او مايعات ډېر استفاده کړئ. مالګه، بوره او غوړ ډېر مه استعمالوئ. کافي ده چې په ورځ کې دوه ځلې چای وڅښئ (نه له هغه زیات). د دې لپاره چې چای مو خپل کیفیت نه وي بایللی، نو د موسم اړوند ترش لیمو او یا زعفران، یا د زعفرانو مخلوط ور اضافه کړئ.

## ګلکسي اېس۲۱ له ګلکسي اېس۲۰ څخه ارزانه دی




سامسُنګ کمپنۍ له ۲۰۱۰ کال راهیسې هر کال د نویو ځانګړنو اضافه کولو له امله د ګلکسي اېس لړۍ د ځیرکو موبایلونو بیه هم لوړوي. له همدې امله تېر کال د ګلکسي اېس لړۍ ځیرک موبایلونه د دې لړۍ د تاریخ تر ټولو ګران بیه ځیرک موبایلونه وو. تېر کال د ګلکسي اېس۲۰ الټرا چې د دې لړۍ تر ټولو پیاوړی ځیرک موبایل و، بیه ۱۴۰۰ امریکایي ډالره ټاکل شوې وه. ځینې کوریایي سرچینې ادعا کوي چې د ګلکسي اېس۲۱ لړۍ ځیرک موبایلونه به د تېر کال ګلکسي اېس۲۰ لړۍ څخه ۱۰۰ – ۱۵۰ امریکايي ډالرو پورې ارزانه وي. په دې ډول کېدای شي د ګلکسي اېس۲۱ بیه ۸۴۹ یا ۸۹۹ امریکایي ډالره، د ګلکسي اېس۲۱ پلس بیه ۱۰۴۹ یا ۱۰۹۹ امریکایي ډالره او د ګلکسي اېس۲۱ الټرا بیه به ۱۲۴۹ یا ۱۲۹۹ امریکایي ډالره وي. دا په داسې حال کې ده چې تېر کال د ګلکسي اېس۲۰ بیه ۹۹۹ امریکايي ډالره، د ګلکسي اېس۲۰ پلس بیه ۱۱۹۹ امریکايي ډالره او د ګلکسي اېس۲۰ الټرا بیه ۱۳۹۹ امریکایي ډالره ټاکل شوې وه.

عزیزی بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزيزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختيا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بايومتريک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګليسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنې ستېټمنټ ليدل، د صرافۍ خپلکاره ماشين څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پيسې ويستل، د مبايل شمېرې ته پيسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه يې ماشين ترلاسه کول، د مبايل شمېرې ته کريډيټ زياتول، د بل اداينه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه يې له ايسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازياتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړيکه ټينګه کړئ.

www.azizibank.af 1515

